د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست
مسلسل نمبر: #۴۸

هفته نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
شنبه، د ذوالقعده ۵ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۵۸

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از لین دوم سرک کابل – جلال آباد بازدید نمود



۲ مه صفحه

# معاون اقتصادی ریاست الوزرا ۸ پروژه مهم را افتتاح نمود



۳ مه صفحه

# د هرات – غور سړک اقتصادي ارزښته ته کتنه



۴ مه صفحه




دا یو حقیقت دی چې له اوبو څخه باید په سمه توګه استفاده او په ښه ډول یې مدیریت وشي، ځکه اوبه یوه حیاتي ماده ده، د انسانانو او ژویو د حیات ترڅنګ د نباتاتو، ځنګلونو او ښارو ځمکو د ابادی، سمسورتیا او زرغونتیا لامل هم ګرځي. ولې په افغانستان کې داسې حکومت رانغی چې د اوبو دې په سم ډول مدیریت وکړي او هغه دې مهار کړي. خو اسلامي امارت دې برخې ته خپل پام ور اړولی دی او په دې برخه کې یې اقدامات ترسره کړي دي. د روان ۱۴۰۳لمریز کال د ثور په نهمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر له لوري په هرات ولایت کې د پاشدان بند پروژې د پاټي چارو پرانیسته وشوه. دا بند شاوخوا ۵۴ میلیونه مترمکعب اوبه ذخیره، ۱۳ زره هکتاره ځمکه خروبه او دوه میګاواټه برېښنا تولیدوي.

په دې خو موږ او تاسو ټول پوهیږو چې زموږ اوبه زموږ شتمني ده، خو سم تنظیم او مدیریت ته اړتیا لري. اسلامي امارت د اوبو د مهارولو او مدیریت له پاره خپلې هلې ځلې ګړندی کړې دي. تر دې مهاله یې په دې برخه کې ډېرې لاسته راوړنې درلودلې هم دي. که موږ او تاسو د قوش تېپې کانال جوړېدلو ته اشاره وکړو، یا د کمال خان، بخش آباد او پاشدان بندونو د پاټي چارو د پیل یادونه وکړو، یا هم د هېواد په کچه د واورو او باران د اوبو د زېرمه کولو له پاره چکډیمونه یادو کړو، دا ټولې هغه پروژې دي چې پرمټ یې د هېواد د اوبو مهار شونی دی. ددې پروژو په بشپړېدو سره به له یوه لوري زموږ د کرنې سکتور پراخ او غښتلی شي، ښارې دښتې او میرې به مو زرغونې او کرنیز محصولات به د اوس په پرتله دوه برابره شي. له بل لوري به موږ د برېښنا د تولید په برخه کې پرمختګ وکړو او نن سبا چې برېښنا د یوه هېواد په پرمختګ کې کوم رول لري، دا خو تاسو ته ښه معلومه ده. د کرنې سکتور په پرمختګ او د برېښنا په برخه کې د افغانستان پر ځان بسیاینه به زموږ د اقتصادي ودې پیلامه وي. ددې ترڅنګ به زموږ خلکو ته د کار زمینه برابره شي، د کورنیو عوایدو به لوړ او اقتصاد به یې غښتلی شي. اسلامي امارت د اوبو اقتصادي اهمیت ته په کتو دادی د اوبو د سم مدیریت له پاره کار پیل کړی چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې په هرات ولایت کې د پاشدان بند پروژې د پاټي چارو د پیل پرانیسته وه. ددې بند د چارو په بشپړېدو سره به له یوه لوري ښارې ځمکې په کرنیزو هغو بدلې، له بل لوري به د واورو او بارانونو د اوبو د بې ځایه بهېدو ترڅنګ کرنیز محصولات زیات او په ټوله کې به د سیمې د خلکو اقتصاد پیاوړی شي. که چېرې د اوبو د مدیریت په برخه کې په همدې ډول یو په بل پسې پلان شوې پروژې عملي شي، نو بیا به زموږ د هېواد په کرنه کې د پرمختګ انقلاب رامنځته، د برېښنا په برخه کې به ډېر ژر پر ځان بسیا او د نورو له احتیاجه به خلاص شوو.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از لین دوم سرک کابل – جلال آباد بازدید نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء روز جمعه ۲۱ام ثور ۱۴۰۳ خورشیدی از لین دوم سرک کابل – جلال آباد بازدید نمود. در این دیدار محترم مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه، محترم ملا محمد عیسی ثانی وزیر فواید عامه، محترم مولوی امین الله عبید والی کابل و محترم ملا محمد نعیم آخند والی ننگرهار نیز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء لین دوم سرک کابل – جلال آباد را یکی از مسیر های مهم تجارتی کشور یاد نموده گفت که روزانه صدها موتر باربری و مسافربری به سرک اول کابل - جلال آباد رفت و آمد می کنند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود که حوادث ترافیکی در سرک اول کابل - جلال آباد به دلیل ازدحام ترافیکی و گاهی لغزش زمین رخ می دهد که منجر به خسارات جانی و مالی به شهروندان می شود. لذا احداث لین دوم این سرک بخاطر کاهش حوادث ترافیکی، انتقال به موقع اموال تجارتی و حفظ جان شهروندان ضروری می باشد.

در پایان محترم ملا صاحب با اشاره به اهمیت این سرک گفت که کار عملی پروژه لین دوم سرک شاهراه کابل – جلال آباد در اولویت های کاری خویش گرفته و پس از منظوری عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله، کار عملی سرک یاد شده آغاز خواهد شد.



## د لتــه بند لــه لارې د کابل - سروبي ســرک پاتــې چارې بشپړېږي



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۴مه نېټه د جمعې په ورځ د کابل - سروبي «لته بند» سرک څخه لیدنه وکړه.

په دې سفر کې له محترم ملا صاحب سره د ټولګټو وزیر محترم ملا محمد عیسی ثاني، د کابل والي ملا امین الله عبید، د ننګرهار والي ملا محمد نعیم اخوند (حاجي ګل محمد) او یو شمېر نورو مسوولینو یې ملتیا کوله.

د ټولګټو وزارت په پلان کې لري چې د لته بند له لارې د کابل - سروبي سرک پاتې چارې په راتلونکي کې پیل او په ټاکلي موده یې پای ته ورسوي.



## معاون اقتصادی ریاست الوزراء

# ۸ پروژه مهم در ماه جاری (ثور) افتتاح نمود

### سکتور ترانسپورت



**پـــروژه هـــا**

- سرک هرات – غور؛
- بخش دوم سرک کوتل خیرخانه شهرکابل؛
- ســـرک از چهارراهی شهید الی قصبه شهرکابل؛
- و ســـرک میدان هوایی کابل الی گمرک.

**هزینه مجموعی**

- ۳۳ میلیـــارد و ۳٤٦ میلیون‌افغانی

**تمـویـل کننده**

- امارت اسلامی افغانستان

### سکتور صنعت




**پـــروژه هـــا**

- فابریکه دارو سازی ایتوک فارما در هرات؛
- فابریکـــه دارو ســـازی افغان میدیسن در هرات؛
- و فابریکه تولیدی مشروبات غیر الکولی شمس کولا در هرات.

**سرمایه گذاری**

- ۲ میلیـــارد و ٤۷۰ میلیون‌افغانی

**سرمایه گـذار**

- سکتورخصوصی

### مـدیـریت آب



**پـــروژه**

- بند پاشدان

**هزینه مجموعی**

- ۸ میلیـــارد و ٤۲٤ میلیون‌افغانی

**تمـویـل کننده**

- امارت اسلامی افغانستان

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســراى کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريكايي ډالر | ۷۲,۰۰؋ | ۷۲,۰۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲٤۹؋ | ۲٤۹؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۳۱؋ | ۱,۳۱؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۷,۷۲؋ | ۷۷,۷۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰.۷۹؋ | ۰.۷۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸٦۲؋ | ۸٦۳؋ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ۹۰,۳٦؋ | ۹۰,٤۳؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,۲۰؋ | ۱۹,۲۱؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,٦۰؋ | ۱۹,٦۲؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹۵؋ | ۹,۹٦؋ |

د اقتصـــادي او ټـولنيـزو مسايلـو
پـه بـرخـــه کـــې د رياست الوزراء
اقتصــادي معاونيت خــبري اوونيزه

آبادي اوونيزه
هفته‌نامه
ABADI ONLINE WEEKLY

# د هرات – غور سړک اقتصادي ارزښت ته کتنه

ليکوال: امان‌الله حنيفي




## سريزه

د يو هېواد په اقتصادي وده کې د نورو سکټورونو تر څنګ د ټرانسپورټ سکټور هم مهم رول لري او همدغه سکټور دی، چې په وخت او له تقاضا سره سم د يوې ټولنې بشري اړتياوې پوره کوي. د همدې سکټور پر مټ د يو هېواد صنعتي وده او د ترانزيټ زېربناوې پيل اخلي. هغه داسې چې په يوه توليدي کارخونه کې د يو محصول له توليد وروسته اړتيا ده څو هغه په وخت او ښه ډول بازار ته ورسول شي، له يوې سيمې بلې ته انتقال شي او يا هم د اړتيا وړ توکي له بلې سيمې را وغوښتل شي تر څو په خوندي ډول مطلوب ځای ته را ورسېږي. او يا هم دا چې مسافر د خپل منزل په لوري وخوځېږي او يا د سياحت په موخه بېلابېلو سيمو ته سفرونه وکړي. نن ورځ د دې خدماتو وړاندې کول د يو معياري ترانسپورټي سيستم موجوديت ته اړتيا لري، چې پر مټ يې د يو هېواد اقتصادي وده پراختيا مونده‌لی شي.

همدې اهميت ته په کتو، اسلامي امارت د ترانسپورټ سکټور په خپلو لومړيتوبونو کې نيولی او عملاً يې د دغه سکټور د معياري کولو او پراختيا په هدف د سيمې او نړۍ هېوادونو سره مجلسونه پيل کړي دي. اسلامي امارت غواړي چې د دغه سکټور پر مټ له ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو سره وصل شي، چې په پايله کې به يې د سوداګرۍ او ترانزيټ کچه زياته او دا به د هېواد پر اقتصاد مثبت اغېز ولري.

د اسلامي امارت په راتګ سره عملاً په هېواد کې د لويو لارو او سړکونو د بيارغونې او جوړولو چارې پيل شوې دي، چې ښه بېلګه يې د کابل – کندهار سړک، د سالنګونو لويه لار، د کابل – جلال آباد دويم لين سړک سروې او ډيزاين او په دې وروستيو ورځو کې د هرات – غور سړک د جوړولو چارو پرانيسته ده.



د هرات – غور سړک د افغانستان له مهمو ملي او سترو پروژو څخه دی، چې د ځمکني ترانسپورټ له لارې غور، باميان، دايکنډي او ميدان وردګ ولايتونه له پلازمېنې کابل سره نښلوي. ياده پروژه څه باندې ۷۹۰ کيلومتره اوږدوالی لري، چې ټولټال پرې شاوخوا ۳۳ ميليارده افغانۍ لګښت راځي. د دغه سړک کارونه د ټولګټو وزارت له لوري ترسره کېږي، چې په ښه کيفيت او ټاکلي وخت سره به بشپړ شي.

د هرات – غور سړک به د سوداګرۍ د پراختيا او سيمه ييز ترانزيټ په برخه کې مهم رول ولوبوي. ځکه په ياد مسير په باميانو کې د حاجي ګک، د غور په شهرک ولسوالۍ کې د مالګې او د هرات په چشت شريف ولسوالۍ کې د مرمر ډېرو کانونه پراته دي. د دغه سړک په جوړېدو سره به په يادو کانونو کې د کورنيو او بهرنيو پانګوالو پانګونې ته زمينه برابره شي، چې په هېواد کې دننه د استخراج او پروسس په صورت کې به د افغانستان د صنعت سکټور ورسره وده وکړي. په ورته وخت کې به د ياد سړک په واسطه د ذکر شوو کانونو ايستل شوي توکي بهرنيو بازارونو ته ورسېږي، چې له درکه به يې افغانستان په کلني ډول په سلګونو ميليونو ډالره عوايد ترلاسه کړي.

د دغه سړک د جوړېدو په صورت کې به پر ياد مسير د پرتو ولايتونو ترمنځ سوداګري وده وکړي، په مختلفو سيمو کې به ودانيز کارونه پيل شي، صنعتي پارکونه به پراختيا ومومي، پانګونې ته به زمينه برابره شي، توريزم به ورسره وده وکړي، په يادو ولايتونو کې موجودې تاريخې ابدات به د کورنيو او بهرنيو سيلانيانو توجه جلب کړي او له دې ټولو سره سره به زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.

نن ورځ په نړۍ کې توريزم ته د څلورمې عايداتي منبع په سترګه کتل کېږي، هغه هېوادونه چې دغه عايداتي فکتور ته يې توجه کړې، په کلني ډول په ميلياردونو ډالر عوايد ترلاسه کوي. د توريزم لپاره تر ټولو لومړی شرط امنيت دی، چې د الله تعالی په فضل سره اوسمهال افغانستان د سيمې او نړۍ په کچه له امن هېوادونو دی. د توريزم د ودې لپاره دوهم شرط د معياري ترانسپورټي خدماتو وړاندې کول دي، چې د اسلامي امارت په راتګ سره ورته جدي پاملرنه شوې ده. په دې وروستيو کې دوه کلونو کې د تېر په پرتله افغانستان ته په لسګونو زرو بهرنيو سيلانيانو تګ راتګ کړی دی او نړۍ ته يې د افغانستان د ښکلا او دلته د موجودو واقعيتونو ښه انځور وړاندې کړی دی.

د هرات – غور سړک په جوړېدو سره به دغه سکټور لا وده وکړي، په دغه برخه کې به پانګه اچونه ډېره شي او له ټولنيز او اقتصادي اړخه به ګټور تمام شي. دغه راز به د ياد سړک په جوړېدو سره د مسافرو لپاره ګڼې آسانتياوې هم رامنځته شي.